AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۲۶

# اوبه، وینه او مینه

## په «کک او زرینه» کې د وطنپالنې روحیه

## او ښکلایز جوړښت يې

### دويمه برخه

کک او زرینه د هیواد پالني سرتیري او قهرمانان دي،
د کک او زريني پیام د هیواد پالني پیام دی،
د وطن او وطني ګتو د دفاع پیام دی
او د میني هغه پیام دی
چي د ورو وژني
پر ضد سر را
پورته کوي.






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

په «کک او زرینه» کې تاسو لوستلای شئ چې په پخوا زمانو کې زموږ په ټولنه کې میرمنو ځنګه مشري کوله، ځنګه یې درناوی کیده. هلته په عملي ډول ښودل شوي دي چې له موږ نه زموږ نیکونه له هره اړخه ښه وو، د هر څه پر اهمیت پوهیدل، د خپلو شتو ساتنه یې کوله او د میرمنو درناوی یې کاوه. د شاعر د اوږده تفکر او مطالعې پایله دا ده چې وایي:

«د ساکي پرتم په څپو کې ورځ په ورځ ډوبیږم او په حیرانتیا، حسرت او افسوس ګورم، چې زموږ نیکونه ترموږ هوښیار وو، هغوی ترموږ ډېر زموږ د روانو اوبو پر اهمیت او ارزښت پوهېدل. د ساکانو اووه ـ سره دوښمنې خپلخانې ـ د هیرمند د اوبو ساتنې په پار، سره یوځای شوې او په خپلو کې یې مرګ ژوبله پرېښوده. خو، ولې موږ، اوس، د خِرد په دې زمانه کې دومره هوښیار او مېړني نه یو؟»

په «کک او زرینه» کې کله چې د ساکانو ملکه «زرینه» راوزي او د اوو ټبرونو مشرانو ته خبرې کوي، هلته لیدل کیږي چې زموږ د ټولنې ښځینه څومره پوهه، هوښیارتیا او پرتم لرې او لیوال دا جریان د څه ډول شاعرانه تورو او انځورونو په قالب کې انځور کړی دی، د منظومې په دریم سرود کې یې دا یوه بیلګه ده:

د ساکي ټبر مشرانو ستړي مه شئ
خدای مو راوله د ستر هیرمند درګاه ته
لوی زرنګ مو هرکلي ته سترګې ایښې
زمانې مو د جنګونو تر شا پرېښې
نن راټول پر یو ټغر پر یوه غولي
د ساکي خپلخانو جوړه ده ټولنه
تر دعا وروسته مو نن سره جرګه ده
پر اوبو د ستر هیرمند مو مرکه ده
د ساکانو لوی هېواد به نن بنیاد شي
د اووه ګونو خپلخانو به پرې زړه ښاد شي
له هامونه تر کاسغر او امو روده
له باختره تر باګرام او تر کابله
سر له ننه به دا ټول د ساک هېواد وي
له پامیره رانیولې تر زابله
سر له ننه زموږ وطن لوی ساکستان دی
د اریـن د لوی کاله پر زړه ودان دی
د ساکي ټبر اووه لویې پښې دي
د ساکي ټولنې خویندې خپلخانې دي
که زرنګ دی او که بُست زموږ دوه سترګې
زموږ له سوبو په پارتیانو زلزلې دي
تاسو ټول څلوېښت مشران زموږ ښاغلي
د ساکانو د ټبر د سر وګړي
په دربار کې زما درې ورځې مېلمه یاست
سره وتړئ د کلک پیوستون پړي
ساکستان دې وي سر لوړی تر ابده!
په هیرمند خړوب او مست دې په هوما وي
له هر نن نه مو دې ښه هره سبا وي!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او په ځواب کې يې د اوو تېرونو مشران داسي وايي:

لښکر چيغې کړي، مشرانو غږ کړ پورته:
تـــخت و بـــخت دې بـــرقــــرار اوســـه اغلې
زمـــوږ سـتـرې مـــلـــکې، زريـــنـــې ښکـلې!
مــوږ راتــول ستا په درشل، ستا پـــه بورجل يو
ساتـنـدوی د ساکستان پـــه ګـډ مـورچـــل يـــو
ساکستان زمـــوږ هـــېواد دی مـــوږ پـــرې وياړو
د هـيـرمند د هـر يـو ښاخکي حساب غــواړو

شاعر چي په «کک او زرينه» کې، له پيل نه تر پايه پورې، د دې اوږده داستان په ترڅ کې، د دومره اساطيرو نمونه، د ماتو او برياوو داستانونه، د دوښمن په مقابل کې د يوالي او اتحاد يادونه، د ځايونو نومونه، د پرديو اساطيرو او ملکونو او... يادونه کوي؛ دا نه د کوم خوب ليدلو له لارې او نه هم د کومې استخارې له لارې دا کار شوی دی، بلکې ټول د شاعر له زحمت، مطالعې، پوښتنو، سفرونو او په خپلو سترګو د ځايونو د ليدلو او شاعرانه وطني مسؤليت درلودلو نه وروسته تر سر ه شوي دي. په خپله ليکوال يو وار داسې وليکل:

«د (کک او زرينه) منظومې د ليکلو لپاره مې له کلونو راهيسې د کتابتوني اسنادو او تاريخي سرچينو راټولولو ترڅنګ، د زاړه ساکستان (سيستان) بېلابېلو ښارونو ته سفرونه وکړل. د هيرمند له ځېو سره مې مزلونه ووهل، د فراه، نيمروز، هيلمند، کندهار، هرات او زابل زاړه ساکي ميراثونه مې له نږدې وکتل. په فراه کې د کک کلا ته ورغلم او د خپلې اساطيري حماسې له اتلانو سره مې ګام پرګام يون وکړ.»

ليوال په «کک او زرينه» کې څو ډوله انځورونه وړاندې کوي:

ـ د کرکټرونو د ځېرې او کارنامو، ماتو او برياوو انځورونه،
ـ د طبيعت د ښکلا ترسيمول،
ـ د وطن مينه او له وطن څخه د ځان قربانولو ښووونه.

د «کک او زرينه» په څلورم سرود کې، زرينه د کک مور ته داسې ور پېژندل کېږي:

زه زريـنـه، چـې لـمسۍ د «تايـمـرېس» يـم
چې لــومړی سـتـره واکـمـنـه زريـنـه وه
د کـوروش د جـنګ سـوبـمـنه، ها ويـاړلې
چـې لښـکر يې د پارسيـانـو تـار پـه تار کړ
د خپل زوی کسات يې واخيست له کوروشه
چـــې د شـاه پـرې کـړې سر يې ورنه راوړ
او په ويـنـو د پـارسيـانـو يـې خـړوب کـړ
زمـــا بـــدن کـې هـــم تـاويـږي او چـلـيږي
د هـــغې انـــا د ويـنـو غـــورځـنـګـونه
د لـــومـړی زريـنې بـلـــه لـــور زريـنه
نـــن ولاړه د هـيـرمـنـد پـه ننګ و نام ده
هيرمند زوی د ساکستان زموږه وروړ دی
هر يـو ښاخکی د اوبو يې پر موږ پور دی

د دويمې برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ